مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادي
۲۰۱۸/۰۹/۰۵

# د افغانستان کانونه د سوکاله ژوند سرچینې

## څلورمه او وروستی برخه

### د تیري دریمي برخي په تړاو او ادامه:

تر هغه ځایه چي زما را یاد دي ، د اتیایمو کلونو د پیل څخه او د شوروی لخوا د افغانستان تر اشغال پوري د هیواد په شمال کي د لاجوردو ، ګازو ، تیلو ، د خوړومالګي ، ډبرو سکرو او یو لړ ساختماني موادو او یو شمیر نورو وړو کانو صنعتي زیرمي ، په لودیز کي د هرات د مرمرو او رخامو ، په مرکزي برخو کي د حاجیګګ د اوسپني کان ، په جنوبی او ختیزو سیمو کي د هلمند د یورانیمو ( خانشین ) ، مرمر او رخامو کانونه ، د جګدلک د یاقوتو ، دننګرهار په ماماخیلو کي د تالک ، په لوګر کي د کرومایتو ، د غزني په زرکشان کي د طلا او په پنجشیر کي د زمرودو د کان زیرمي تثبیت شوی وې . د عینک د مسو کان یوازنی معدن دی چي اکتشافي کارونه یې د کشف ( ۱۳۵۳ کال ) سره جوخت په ۱۳۵۴ کال پیل او د زیرمو ډیره برخه یې د اشغال په کلونو کي محاسبه او تثبیت شوه . ددغه معدن د کشف د کیسي په تړاو زما یوه خاطره ډیره په زړه پوري ده . انشاالله که مي فرصت پیدا کړ ، یو وخت به یې تر لوستونکو پوري ورسوم . البته دلته په لوړو کرښو کی یوازي د هغو معدنو یادوونه شویده چي د زیرمو پر ارزوني باندي یې تر لویه بریده اړین کارونه تر سره شویدی . ددغه وړاندي شوي لست پر بشپړتوب ټینګار نه کوم .

د نوموړو کانو له ډلی د حاجیګګ د اوسپني کان د اسیا تر ټولو لوی او په نړیواله کچه یو د لومړیو لویو معدنو په کتار کي راځي او د عینک د مسو کان د نړی د څلورو سترو کانو په ډله کي پروت دي . د شمال د ګازو زیرمي ستري دي او د ډبرو سکرو زیرمي د هیواد د اړتیاوو بسنه کوي . د هغه وخت د ارزونو او محاسبې له مخي په افغانستان کي د تیلو زیرمي له بده مرغه ډیري وړې وې چي د ننني اړتیاوو وړه برخه هم نه پوره کوي . خدای دی وکړی چي نوو څېړنو پدې هکله نوي هیلي را ټوکولي وی .

د لوړو یاد شوومعدنو پرته یو لړ نور واړه معدنونه هم وه چي زیرمی یې تر یوې کچی محاسبه شوي وې ، لکه : د نورستان بیروج ، د غور سرب ، جست او سیماب ، د غوربند بیرایټ ، دهرات د ډبرو سکاره ، مس ، قلعی ، ګچ ، مالګه او بیرایټ ، د ارزګان فلورایټ او شامقصود ، د بدخشان اوسپنه او طلا ، د لوګر ازبست ، ګرافیت او په دربند کي مس ، د زابل مس او المونیم ، د کندهار په دره نور کي سرب او جست او په خاکریز کي طلا ، د فراه قلعي ، د کنړ بیریل ، د بلخ په البرز کي سلفر ، د کابل په ماهیپر کی شامقصود ، د خوست کرومایټ او د پکتیا په میرزکه کي طلا . ځیني نور د وړو معدنو څرګندویه نښنی هم وې چي په یادولو نه ارزي . لکه څنګه چي می یاده کړه د شورویانو لخوا تر اشغال نه وروسته ټول هیواد د جنګ په لمبو کي کریدی . نه یوازی داچي په اتیایمو کلونو کي نوی کان پیدا نشو ، بلکه پر هغو پخوانیو پیدا شوو معدنو باندي هم کار په ټپه و دریدي . ددي خبري څخه هم سترګي نشو پټولای چي د افغانستان د کانو په کشف کي چي څومره شوروي ماهرانو کار کړي ، بل هیڅ هیواد به هم په یوازي توګه دومره کار و نه کړي . د همدغه ډول کارونو له مخي خلکو ورته د دوستۍ غیږه پرانیستل ، خو د کرملین لنډه غر او عاقبت نه سنجونکو واکمنانو هغه څه و کړل چي هم یې زموږ په هیواد کي د ستري غمیزي اور بل کړ او هم یې پدې داو کي خپله لویه امپراتوري د لاسه ورکړه .

د پنتاګون په راپور کي یوازي د جنوبي سیمو د معدني زیرمو ارزښت یو میلیارډ ډالر ښودل شویدی چي هغه مهال د افغانستان د کانو او صنایعو وزیر بیا د هیواد د معدني زیرمو ارزښت دري میلیارډه ډالر یاد کړ . زما په نظر دا دواړه رقمونه دقیق ندي . دا ځکه : ۱ ـ په اړوندو سیمو کي د ټولو کشف شوو عناصرو شتون لا تر اوسه د معدن نومولو تر کچي څېړل شوی ندی . ۲ ـ پر نوموړو معدنو باندي اقتصادی ـ تخنیکي څېړني تر سره شوی ندي . زه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

باور لرم که د افغانستان طبعي معدني زيرمي که په دقيق ډول دنوو متودونو او پرمخ تللی تخنيک په مټ و څيړل شي اودغو موادو ته د نړيوالو ورځ تر بلي زياتيدونکي اړتيا او د قيمتونو يو په بل پسې جګوالی په پام کي و نيول شی ، کيدلای شی چی ارزښت به يې لدې نه هم زيات وي . په هر حال ياد شوی رقمونه لا تر اوسه دقيق بللای نشو.

دامريکايانو په راپور کي د يادو شوو کانو د ذخيرو د محاسبې په اړه بايد ووايم چي د رسنيو د مالوماتو له مخي امريکايي کارپوهانو د شوروي جيولوجيستانو لخوا د ليکل شوو راپورونو تر لوستلو وروسته پر ډيرو اړوندو سيمو باندي څيړني د الوتکو په مټ له هوا څخه تر سره او بيا يې پرمختللي تکنالوژي هم د هوا څخه پکار واچول او دغه معدنونه يې په دري اړخيز ( سه بعدي ) ډول و څيړل . ښايي د پنتاګون لخوا خپور شوی راپور به د همدغو وروستيو څيړنو پايله وي . پدي کی هيڅ شک نشته چي ددې ډول څيړنو د لاري د معدنو په هکله ډير اړين مالومات تر لاسه کيدلای شي مګر تر هغه ځايه چي زه د جيولوجي د يوه شاګرد په توګه پوهيږم ، دغه څيړني سره لدې چي اړيني دی خو بشپړي او کافي ندي . د معدن د زيرمو دقيقه محاسبه تر دي ټولو برسيره و ځای په ځای نيغ په نيغه کار ، کيندنو او حتي برمه کاريو ته اړتيا لري چي دا کار لا تر اوسه نه امريکايانو او نه هم د دوی نورو ائتلافي انډيوالانو تر سره کړی . که زيرمي په علمي متودونو سره دقيقي محاسبه نشي ، بيا يې نو مقدار يوازي د اټکل په کچه يادولای شو . کيدلای شی دا اټکل تر ډيره واقعيت ته نژدي وي خو پانګه وال پر اټکلي مقدار باندي و پانګوني ته زړه نه ښه کوي .

لکه څنګه چي مي په پيل کي ياده کړه ، د افغانستان د جيولوجيکي نقشې له مخي د هيواد د خاوری تر ځمکي لاندي جوړښت لوړ معدن زيږونکی پوټنشيال لري . که چيري دا پوټنشيال د نوی پرمختللی تخنيک په مټ و څيړل شي ، احتمالی موجود معدنونه کشف او د کشف شوو معدنو د زيرمو په محاسبه کي د پرمختللی تکناوژۍ نه کار واخيستل شی ، په هيواد کي د جنګ لمبې مړې شی او د دموکراسۍ تر څنګ د قانون ديکتاتوري واکمنه شی ، د اقتصادی مافيا او نورو زورواکو ټوپکيانو لاسونه پرې شی ، فساد ته مرګ موش ورکړل شي او د کانو د لاری تر لاسه شوې پانګه د يوه منظم علمي پلان له مخي د هيوادوالو د سوکالی په چارو کي ولګولي شي ، نو بيله شکه کيدلای شي چی د ځمکی لاندي زيرمو او سرچينو له برکته د افغانانو د پاره د ځمکی پر مخ جنت جوړ کړل شی .

د ليکنی پای

نيټه : ۵ / ۹ / ۲۰۱۸

ډنمارک هيواد ، د Aarhus ښار



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ